


# هندوستان پرېږدئ

په تېر پسې

پــه اخــر کښې دا ووې چې صـحیح هلې ځـلې دا وخـت نـه شروع کېږي. تاسو ټول اختیار زمـا لاسـو تـه حـوالـه کړے دے زهٔ بـه اوس د وائسـرائے سره د ملاقات انتظار کوم او دهٔ ته به د کـانګرس دا مطالبه وړاندې کوم. تاسو هر یو کس د دې وخـت نـه پـس خپـل ځان آزاد ګڼئ او هر یو نـارینـه او زنـانـه د یـو آزاد فرد په حیثت خپلې مـعـامـلې کـوئ. د غلامۍ زنځیرونه هله شلېږي چې یو کس ځان آزاد وګڼي. تاسو ځان په دې پوهه کړئ چې زهٔ به خپل ملاقات کښې د وائسرائے سره د وزارتونو او یا د دې قسمه مراعاتو خبره نهٔ کوم. زهٔ د مـکملې آزادۍ نه بغیر په بل هیڅ یو شي نهٔ شم مـطـئـین کېـدے. تـاسو دا خبره زړهٔ ته پرې باسئ او په خپله هره یوه ساه کښې دا شامله کړئ. تـاسـو د خپـل خـدائے پاک او خپل ضمیر سره دا کـلک لـوظ وکړئ چې مـونږ بـه په هر قیمت ځان آزادو او کهٔ زمونږ سرونه پکښې ځي مونږ به د دې د قـربانۍ نه هم غاړه نهٔ غړوو. څوک چې خپل سر بـائیـلـې هغه ژوندے وي او څوک چې د خپل سر پـرواه کوي هغه مړ شي. آزادي د بزدله او کمزورو زړونو لرونکو دپاره نهٔ وي

پـه نـهـم اګست د کـارنده کمیټۍ او ټول هـنـدوسـتـان د کـانګرس د مـرکزي کمیټۍ غړي ګـرفـتـار کړے شـو او پـه خاص ریل ګاډي کښې د مـلک مختلفو جیلونو ته ورسولے شو. کله چې د دې ګـرفـتـارو خبـر خـور شو نو په ټول هندوستان کښې سـخت اړے ګړے شروع شو. په ملک کښې د کانګرس په سوونو مشران ګرفتار کړے شو.

پښـتــونـخـوا کښې شـروع شـروع کښې حـالـت پـرسـکـون وو د دغه ځائې د حالاتو په وجه خـان عـبـدالـغـفـارخان د ټول هندوستان کانګرس مــرکــزي کـمـیـټـې پـه غونډه کښې نهٔ ؤ شـریک شـوے. د صـوبې کـانګـرس کـمـیټۍ د تحریک شـروع کـولـو ټول اختیـارات د دهٔ پـه لاس کښې ورکړي وو. دے د تـحـریـک کـارکنانو سره صلاح مشـوره کښې مشـغـول ؤ چې پـه بـمبـئ کښې د کانګرس د مشرانو د ګرفتارۍ خبر راغـے. پېښور کښې پـه لسـم اګسـت یوې غونډې ته خپـل تقریر کښې دهٔ د ,,هــنــدوســتــان پـرېـږدئ،، د قـرارداد د مــرستې مــلــګــرتــیــا اعـلان وکړو. دهٔ خـدائـي

خدمتګارو ته ووې چې تادي مۀ کوئ او د صبر نه کار واخلئ او تعميري کار جاري ساتئ او صوبه کښې چې د افرا تفرۍ پېدا کولو کومه پروپېګنډه کولے شي د هغې مقابله کوئ.

دۀ ووې د تحريک شروع کولو وخت لا نۀ دے راغلے او دا وخت تحريک شروع کولو ته زمونږ هيڅ تادي نشته. مونږ د صوبې ځينو ځايونو کښې د شرابو د دوکانونو پيکټينګ شروع کړے دے او د څه وخت دپاره به دا دغسې جاري ساتو.

د دۀ د ځينو ملګرو تجويز ؤ چې مونږ له ټيليفون تارونو پرې کولو، دريل ګاډې د پاټلۍ وښکلو او نورو مواصلاتو ختمولو کارونه شروع کول پکار دي. خان عبدالغفار خان ووې چې زۀ به په دې شرط رضا شم چې دا شان کارکوونکي د دې تخريبي عمل نه پس ځان پوليس ته حواله کوي او د خپلو کړو ښه ښکاره اعتراف کوي. دې سره به د دغه کارکن اخلاقي حوصله نوره هم زياته شي او د خلقو دپاره به د مړانې بهادرۍ او صداقت يو مثال جوړ شي او دې سره به دوي د تنګولو او شکونو نه هم محفوظه شي.

د کال ۱۹۴۲ په لسم ستمبر ډاکټر خان صېب د صوبې د وزيراعظم د عهدې پرېښودو نه درې کاله پس د يو خدائي خدمتګار په حيثيت سره وردۍ کښې د پېښور سول سيکرټريټ ته ورغے او سرکاري ملازمانو ته ئې يو مختصر شان تقرير وکړو. دۀ سره درې نور خدائي خدمتګار ملګري وو په دې کښې يو تن يو نظم ووې. ډاکټر خان صېب د سيشن جج او جوډيشل کمشنر دفترو ته هم ورغے او دغه شان تقرير ئې وکړو. د خدائي خدمتګارانو دويمه ډله د پخواني صوبائي وزير قاضي عطاء الله په مشرۍ کښې ټولو مقامي سکولونو ته ورغله او دريمه ډله د پېښور ښار ټولو تانو ته لاړه او د هندوستان پرېږدئ پېغام ئې دغلته ورسولو.

د ستمبر د اخره پورې عبدالغفارخان تحريک کښې ډېر زور پېدا کړو. ګڼ شمېر خدائي خدمتګارو به د ډلو په شکل کښې په سرکاري دفترو او عدالتونو او تانو چپاونه کول. په څلورم اکتوبر خدائي خدمتګار په ګڼ شمېر کښې د کيمپونو نه راووتل او د انقلاب زنده آباد نعرې په خله خپلو خپلو تاکلو ځايونو ته روان شول چې خپله درې رنګي بېرغ په سرکاري عمارتونو وخېژوي.

د ټولو عدالتونو او دفترونو د حفاظت په کار فوځيان او پوليس ودرولے شوي وو. خدائي خدمتګارو د دوي محاصرې ماتولو کوشش وکړو ولې دوي سخت ووهلے او وټکولے شول او بې هوشه شو. ځينې سروخپوش سخت ژوبل شو او دوي د کانګرس له خوا لګولے شوي امدادي کيمپونو ته ورسولے شول. څوک چې سخت ژوبل نۀ وو هغه پوليسو د پوليسو په ګاډو کښې مختلف لرې ځايونو ته يوړل او دغلته ئې پرېښودل چې پېدل خپلو کورونو ته لاړ شي.

عـدالتـونـه د پينځلس ورځو پورې بند کړے شو. کـلـه چې بيـا پـرانستـے شـو نو بيا په دې چپاؤنه شـروع شـول او پـولیـس بيا خپل زور ظلم شروع کړو. دې چپـاؤنـو کښې شـامـل پـه سوونو خلق گرفتار کړے شول.

يـوه ورځ د پېښور په ښار د يو لوئې مارچ اعـلان وکړے شـو. د مـظـاهـرينو د گرفتارولو په ځـائې د مـکـر او فـريـب نه ډکه بله طريقه اختيار کړے شـوه چې د مـظـاهرينو حوصلې ماتې کړي. سـر رشبروک ويليمز دا واقعه داسې بيانوي چې د دې مـظـاهـرې ډېـر تشهيـر شوے ؤ ولې دې ته په داسې چـل مـاتې ورکړے شوه چې د پښتونخوا په گـوټ گـوټ کښې ئې خلق يادوي. کوم پولټيکل افسـران چې خـواؤ شـا متعين کړے شوي وو دغو کښې يـو سـکـندر مرزا ؤ. دۀ ته معلومه وه چې د نـورو پښتـنـو پـه شان سرخپوش هم د شين چائې سره د ډوډۍ خوړلو نه بغېر بهر ته په څه کار پسې نۀ ووځـي. دۀ پـه کـيـمپ کښې د بـاورچيانو سره سـازبـاز وکړو او پـه خوراک کښې ئې ورتـه جمال کـوټـه واچـوله. مارچ ښه په باوقاره طريقه شروع شـو او د انقلاب زنده اباد نعرې اوچتې شوې. ولې د څـه ځـائې تلو نه پس د خلقو خېټې خرابې شوې او يـو يـو کـس پټـو تـه د حـاجت دپاره تلل شروع شـول. د وخـت تېرېدو سره گڼ شمېر کسان په ډېر بد حال کښې پېښور ته ورسېدل.

د پښتـونـخـوا حـکـومت د نورو صوبو د حـکـومتـونـو پـه شان د خدائي خدمتگارو خلاف کـاروائي به کوله خو په چل ول ئې دې تحريک ته نـقصان رسول غوښتل. ملايانو ته پېسې ورکړے شـوې چې دوي پـه دروغـه طـريقه د خلقو مذهبي جـذبـات را وپـاروي. د انگـريزانو په حق کښې يو سرې پـرچې ښـه پـه آزاده آزادۍ خپرولے کېدے عبـدالـغفار خان خپلو ملگرو ته خبردارے ورکړو چې سخت حالت را روان دي او د حکومت کاروائي نۀ کـول يـوه عـارضي خبره ده. حکومت نړۍ ته د دې ښـودلـو کـوشـش کـوي چې گنې مسلمانان د مـلـک پـه آزادۍ کښې څه دلچسپي نۀ لري. دوي تـه دا خبـره معلومه ده چې گنې مسلمانان د ملک پـه آزادۍ څـه دلـچسپي نۀ لري. دوي ته دا خبره مـعـلومه ده چې پښتـونخوا کښې چرته چې تقريباً ټـول خـلـق مسـلـمـانان دي د خدائي خدمتگارو د آزادۍ په تحريک کښې د برخې اخستو د خبرونو سره به د حکومت پروپېگنډه دروغ ثابت شي.

صـوبـه کښې د خبـرونـو پـه وتو سختـه پابندي وه. خان عبدالغفارخان صوبه کښې د خپلو مـلگرو د تحريک روداد داسې بيانوي. ,,د صوبې جـرگې د اولسـي نافرمانۍ د تحريک واک اختيار مـاتـه راکړو. او دا شان ئې زما نه يو امر جوړ کړو چې ټول اختيارات د هغه په لاس کښې وي. زۀ تل د يـو کـس پـه لاس کښې ټـول اختيارات راتلل نۀ خـوښـوم او تل د خپلو ملگرو سره مشوره کوم او خپل حکم نۀ چلوم.

زمـا د هـدايـاتـو مـطـابـق په لويه اولسي سطحه اولسي نافرماني شروع شوه. بنو، کوهاټ،

ټانک،مردان او پېښور کښې په عدالتونو او سرکاري دفترونو چپاؤنه وشول. حکومت د دې تحريک چقولو کوشش کوو. يو مسلمان ډپټي کمشنر سکندر مرزا خو د حکومت په وفادارۍ کښې د انګريزانو نه هم وړاندې لاړو او يو خدائي خدمتګار سيداکبر ئې په وهلو ټکولو شهيد کړو. هغه تر دې حده پورې لاړو چې د خدائي خدمتګارو کيمپونو کښې ئې په سبزو کښې زهر ګډ کړل. چا چې دغه سبزي او ترکاري وخړه هغه سخت بيمار شول. زۀ د دۀ نور جرمونه نۀ په ډاګه کوم ولې چې د قيامت په ورځ به د الله پاک مخې ته حساب ورکولو ته حواله ئې معاف کوم.

ما به د هندوستان پرېږدئ تحريک د نګراني کولو په غرض د صوبې د مختلفو علاقو دورې کولې. يوه ورځ زۀ کوهاټ ته روان ؤم چې د کوهاټ ددې تانې سره ګرفتار کړے شوم. پېښور ته په موټر کښې راوستے شوم او بيا آزاد کړے شوم. چرته چې به زۀ تلم د ګرفتارۍ او بيا پرېښودو دا سلسله به جاري وه. د کال ۱۹۴۲ د اکتوبر په اويشتم تاريخ زۀ د پنځوس خدائي خدمتګارو سره د چارسدې نه د مردان ضلعي عدالت باندې د چپاؤ دپاره پېدل روان ؤم په لاره مونږ مختلفو کلو کښې اولسي غونډو ته تقريرونه وکړل.

پوليس ماته مرويس ډهيرۍ کښې ناست وو مونږ خپلو کښې لاسونه ورکړل او وړاندې روان شو. پوليس چې مونږ جدا کړو مونږ بيا خپلو کښې لاسونه ورکړل او روان شو. پوليس ډېر په بې رحمۍ سره په مونږ کوتکې وچلولې. يو ماتحت پوليس اهلکار خوشدل خان زۀ ووهلم او زما دوه پختۍ ماتې شوې. زما جامې په وينو سرې شوې دۀ مونږ ګرفتار کړو اول ئې مردان جيل ته بيا رسالپور او بيا هرې پور جيل ته ورسولو. دغلته زمونږ ډېر ملګري بنديوان وو. دوي به اکثر د انقلاب زنده اباد نعرې وهلې. زما دغلته د موجودتيا په وجه د جيل حاکمانو په دوي قابو نۀ شو موندلے نو په دې وجه ئې زۀ د ايبټ آباد جيل ته ولېږلم.

د چيف سيکتر خفيه تحرير د خان عبدالغفارخان په حقله داسې وائي ,,په ډاګې کښې د شپې تېرولو نه پس عبدالغفارخان پېدل مردان ته روان ؤ په لاره به د منځه او خلقو ته د تقرير دپاره اودرېدو. دے د ماسپښين درې بجې مردان ته يو ميل لرې يوې تانې ته ورسېدو. دے د خپلو يونيم سل ملګرو چې پنځوس تنه پکښې په سرو جامو کښې وو وړاندې روان ؤ د پوليس په وينا دۀ د واپس تلو يا اودرېدو نه انکار وکړو نو پوليس په دې وجه د دوي خلاف په کاروائۍ کولو مبجور شو. عبدالغفارخان ګرفتار کړے شو. دۀ د پوليس په ګاډي کښې د کښېناستو نه انکار وکړو او مزاحمت ئې کوو په دې وجه په دۀ څه معمولي خراشونه راغلل څه خاص زخم پرې نۀ دے راغلے نو په دې وجه د اکسرے ضرورت نشته،،.

د جيل د خپلې تجربې په حقله

عبدالغفارخان وائي چې: ,,د تحريک شروع کېدو د اولسو ورځو نه علاوه اګرچې حکومت زمونږ سخت خلاف ؤ ولې نۀ ئې زما بې عزتي چرته کړې وه او نۀ ئې زۀ زخمي کړے ؤم. يو ځل د جيلخانه جات انسپکټر کرنل سمتهـ ايبټ آباد جيل کښې زما چکئ ته راغے. زما سره ئې لږ ګپ ولګولو او د تلو په وخت ئې د جيل سپرنټنډنټ ډېر اورټلو او وې وئيل چې تا دے ولې د کوټترو په ډبه کښې بند کړے دے. سپرنټنډنټ ورته په ډېر ادب اووې چې ماته حکومت د داسې کولو هدايت کړے دے. کرنل سمتهـ ګورنر سرجاج ګنهګم ته ټيلي فون وکړو او ورته ئې ووې چې دا مناسب خبره نۀ ده چې تايو د يو بهار مخالف عبدالغفارخان سره داسې سلوک کوئ. ګورنر ته احساس وشو او خپل حکم ئې واپس واخستو. کرنل سمتهـ د وړاندې نه زما بل جيل ته د لېږلو او ماسره زما د ځوي ولي خان او درې نورو ملګرو يو ځائې ساتلو حکم ورکړے ؤ چې مونږ جيل کښې يو ځائې خبرې اترې کوو.

زۀ په اکتوبر ۱۹۴۳کښې دوباره هري پور جيل ته ولېږلے شوم چرته نه چې زيات شمېر سياسي قيديان د وړاندې نه رها کړے شوي وو. دا يو لوئې جيل ؤ لوئې لوئې بارکونه او احاطې او ګېرچاپېره ترې باغونه او سړکونه وو. دا جيل بنيادي طور د پښتونخوا او ګېرچاپيره علاقو د جرائم پېشه خلقو او ډاکه مارانو دپاره جوړ کړے شوے ؤ دې کښې هسپتال ؤ چې د مرمرو نه جوړ فرش ئې ؤ او قيديانو ته د فټبال،هاکۍ او نورو لوبو کولو اجازت ؤ. ولې د دې جيل حاکمان ډېر ظالمان وو. سياسي قيديان به په ډېر ګڼ شمېر کښې په يو کيمپ کښې ساتلے شو چې ګېرچاپيره به ئې لوئې لوئې ديوالونه وو. دغلته به د خدائي خدمتګارو سره تشدد کېدو او د دوي بې عزتي به کولے شوه. دوي به چکو کښې بندولے شو. په سخته يخنۍ کښې به د دوي جامې لرې کولے شوې او په کوټکو به وهلے شول ګڼ شمېر قيديان د دې تشدد د لاسه مړۀ شوي وو. زما به تالاشي کولے شوه،،.

په مونږ کښې زيات شمېر داسې قيديان وو چې مشقت به مو نۀ کولو. مونږ د جيل انتظاميې ته خواست وکړو چې مونږ ته د نورو مختلفو کار راکړئ چې د هغې اجرت د يو سل فټه په بدل کښې دوه روپۍ وي. زمونږ ګڼ شمېر ملګرو به دا خپل اجرت سردرياب کښې مرکز ته لېږو. مونږ جيل کښې د ليک لوست د زده کړې دپاره کلاسونه شروع کړل او ګڼ شمېر ان پړه خدائي خدمتګاران د ليک لوست جوګه کړے شو. مونږ به دغلته قران پاک او ګيتا لوستو. امير محمد خان به قران پاک او د سنکسرت يو پوهه پنډت شمبو ناتهـ به ګيتا لوستو. او د مختلفو عقيدو قيديانو به ئې د دې اقتباسات بيانول. يوه ورځ امير محمد خان د قران پاک درس ورکولو چې يو هندو زلمي د قران پاک په يو ايات شک ؤ شبه ځرګنده کړه. امير محمد خان غصه شو او وې

وئیـل چې د قـران پـاک پـه هیڅ یـوه برخه چاته د تـنـقید اجازت نشته. ما پکښې مداخلت وکړو ما ووئیـل چې کۀ چـرې څـوک زلمے په دې حواله څه تپـوس کـوي نـو په دې غصه نۀ ده پکار او دۀ ته د هـغې تشریح کول پکار دي چې دے د قران پاک په مـفهـوم پـوهـه کړے شـي. پنډت شمبو ناتهـ به د گیتا درس ورکوو.

د هـر اتوار په ورځ به ټول سیاسي قیدیان یـو ځـائې راجـمـع کېـدل او د علامه اقبال دا ترانه ,,هـندوستان همارا،، به ئې وئیله. د دې نه پس به عـام بـحث خبرې اترې او یو بل ته قیصلې وئیلے کېـدې. د علامه اقبال نظمونه به وئیلے کېدل هغه بـه زما ډېر زیات خوښ وو. د دستورې په ختمېدو بـه مـا دسـتـوره کښې شـریـکو کسانو ته متهائي ورکوله.

مـونږ بـه پـه مـختلفو موضوعاتو خبرې اتـرې کولې. ما به د اسلام په زرین دور او د خلفاء راشـدینو حضرت ابوبکرصدیقؓ او حضرت عمرؓ په افـکـارو رنړا اچوله. حضرت ابوبکرصدیقؓ خلیفه جـوړېـدو تـه غـاړه کېښوده او په ډېر مشکله سره دے د خـلافـت عهـدے اخستـو ته تیار کړے شو. حضرت ابوبکرصدیقؓ به ارزانې جامې اغوستې او د کـجـورو د پـاڼـو نه په ډکه کړے شوې بستره به سـمـلاسـتـو. یـو ځل ورته خپلې بي بي د اختر په ورځ د مـاشـومـانو دپاره د حلوا پخولو اووې نو دۀ ورتـه اووې چې دا د یو اسلامي مملکت د خلیفه د شـان مـنـاسـب نۀ دي بهرحال د دۀ بي بي څه لږ ډېر بـچـت کړے ؤ او پـــه هـغې ئې حـلـواه پخـه کړه. حـضـرت ابوبکرصدیقؓ اووې چې د بچت دغه رقم زمـا د اصـلـي ضرورتو نه سېوا دے نو په دې وجه ئې دغه هومره رقم د خپلې وظیفې نه کم کړو.

کـلـه چې د غلې کمے ؤ نو حضرت عمرؓ به دوه وختـه ډوډۍ نۀ خـوړه. بیـا چې کله د مصر نه غله راغله نو اول په ټولو غریبانانو تقسیم شوه نو هـلـه بیـا حـضـرت عـمرؓ دوه وخته ډوډۍ خوراک شـروع کړل. حـضـرت عـمـرؓ بــه صـرف پـه حکم ورکولو اطمینان نۀ ؤ په خپله به ئې گشت کولو او د خلقو د حالاتو نه به ئې ځان خبر ساتلو چې چرته څـوک غـریب وګے پاتې نۀ شي. یوه شپه دے دغه شـان پـه گشت وتے ؤ چې د یوې جونګړې نه ئې د مـاشومانو ژړا اواز واورېدو. دے دغه جونګړې ته دنـنـه ورغـے دۀ ولیدل چې یوې زنانه یو کټوۍ په اور ایښې ده او مـاشومان د لوږې نه ژړېدۀ. دۀ دغه زنـانـه تـه اووې چې دې ماشومانو له د خوراک څه ولې نۀ ورکـوې. هـغې ورته اووې چې کۀ څه وے نو مابه ورکړي وو هغې د کټوۍ نه سر پورته کړو پـــه هغې کښې تشې اوبـه ایشیدې. او پـه دې ئې ماشومان غولول چې چپ شي او اودۀ شي.

(نوربیا)